# بدلېدونکې نړۍ او ادب

خان زمان کاکړ

ځان ژوندے ساتل او په ژوند کښې بهترې غوښتل د انسان اساسي مادي خصوصیت دے. د هم دې عمل له لارې فطرت خپلې نوې نوې دروازې پرانیزي. انسان د سائینس، فلسفې، سیاست او ادب په زور خپلو ارتقائي پوړیو ته خېژي او د ښهٔ نه د لا ښهٔ پلټنه کوي. د ترقۍ او ارتقاء د روایتي اپروچ نه یو خوا ته مونږ ته په انساني ژوند کښې د روانو بدلونونو معیار کتل دي. مونږ هغه وخت د بدلون پر هیئت او ماهیت یو سېر حاصل بحث کولے شو، کله چې په ټولنه کښې موجود طبقاتي حقیقتونه مخې ته کښېږدو، ځکه چې تر څو پورې په ټولنه کښې طبقات موجود وي، تر هغه پورې به د هر بدلون بنیاد او معیار طبقاتي وي، نهٔ د سرمایه دارانه جبر تر سایه لاندې د یوې سوکاله ټولنې او سوله اییز ژوند قیام ممکن دے او نهٔ د ذاتي ملکیتونو په سیورې د انسان د معاشي او سیاسي ازادۍ تصور!!! ځکه نو د نن په ظالم، فرسوده او پسمانده طبقاتي نظام کښې د ګلوبلائزېشن په بڼه موجود رجحان د یو انساني وحدت په ځائے د سرمایه دارانه وحدت غلام دے. دا سرمایه دارانه ګلوبلائزېشن د هغه اشتراکي ګلوبلائزېشن سره یو نهٔ پخلاکېدونکے تضاد او تصادم په غاړه لري چې "د ټولې نړۍ زحمت کښان یو دي".

کله چې کمیونېزم خپل پس منظر ته لاړ نو د ګلوبلائزېشن په اصطلاحي بڼه کښې دا تاثر ورکول شو چې اوس په ټوله نړۍ د سرې خورو واکمني شوه او په ټوله نړۍ کښې څوک هم د هغوي د مقابلې پاتې نهٔ شو. د سرمایه دارانه نظام استاذو دانشورانو د تاریخ او نظریاتو د اختتام سرودونه پورته کړل او هم دې ډلې په سیاسي برلاسۍ او معاشي حرص مندۍ کښې انسانیت له غمیزو سره مخامخ کړو. مونږ په دې دعوېدار مهذب او مقدس جهان کښې هم د خپلو ککریو دنګ منارونه ولیدل او د ښځو، سپین ږیرو او ماشومانو بې حرمتي او سپکاوے مو ولیدو. بربنډ جارحیت وشو، د جبر او جنون واکمني پاتې شوه، جنګونه وچلېدل، جنګونو زمونږ نسلونه وخوړل، پېړۍ ئې راباندې تېرې کړې او جغرافیې ئې راته خېرنې او خوړجنې کړې. مونږ غلام نژاد د وحشت بالادستۍ او د جهل واکمنۍ وزغملې. غرونه او رغونه مو بارودو تور کړي دي. کوترې مو له اسمانه کوچېدلي دي، په چنارونو کښې مو مرغان ځالې نهٔ کوي، ځنګل ښار ته راننوت، دنیا مو ځنګلي خلق بولي، ځکه چې د ځنګلي قوانینو په سیورې د ژوند د جبر په عکس العمل کښې فریاد او قرارداد لرو خو مزاحمت نهٔ لرو.

دا نن مې په ټولنه کښې د انسان لوېدلے حېثیت، تباهي، بدحالي، نا ارامي او د سماج مسخ شوې بڼه د فکري استبداد د راج او تاج پایله ده. د ټولنیز وروستو پاتېوالي او معاشي بدحالۍ په سوب هره خوا یوه بوداره ذهني غلامي موجوده

ده.هم له دې کبله زمونږ فن پارو او ادب پارو هم د ابهام، پیچلتیا او تضاد رنګونه اخستي دي.

ارتجاعي قوتونو په علم و ادب کښې د ترقي پسندو ا فکارو د مخنيو دپاره يوه منظمه پاليسي خپله کړې ده چې ا دبي بيوروکريسي ته ترې قوت او انرجي ميلاوېږي. ملټي نېشنل کمپنيو، مارکيټ اکانومي او تجارتي کارپوريشنونو او ټرسټونو په ټولو انساني ارزښتونو، سرېتوب او وقار سخت ګوزارونه کړي دي. د تخليق او ايجاد نيک تصور په اقتصادي حرص مندۍ او د مستبد نظام په چمچه ګرۍ بدل شوے دے. د پرنټ او اليکټرانک ميډيا په دې تيز رفتار دور کښې هم هر ډول رشتې ورکې دي، د اعتبار نيستي ده او اعتماد پورته شوے دے. د سياست محور قبائليت ګرځيدلے دے او ادب په خلا کښې ځوړند دے.

کله چې په ټولنه کښې د جمود واکمني وي نو د ساينسدانانو، فيلوسفانو، مفکرانو او روڼ اندو په ځائے په خودکُش بمبار، مذهبي جنونيان، تاويل ګړونکي ملايان، طالبان او جهاديان پيدا کيږي. کله چې مکتبونه سوځول کيږي او مدرسې پراخيږي نو د روشن خيالۍ په ځائے به طالبانائزيشن، هيروئين او کلاشنکوف کلچر جوړيږي. استبدادګر د خپل شان و شوکت د قائم ساتلو او خپل قدر اوچتولو دپاره له انساني ارزښتونو، سرېتوب، اخلاقاتو او قار سره يو داسې لوبه کوي چې بنسټ ئې پر سفاکيت او بربريت ايښودل شوے دے. استعماري قوتونو د پيداواره او اقتصادي لالچ پيش نظر د ربړېدلي طبقې سياسي، تهذيبي او ټولنيز بنسټونه غورځولي دي. هغوي زمونږه تخليقيت، سياست او سماجيت ته د بکاؤ مال بڼه ورکړې ده او د هغوي سرمايه دارانه هوس زمونږ قامي روايتونه، اخلاقي ارزښتونه، صلاحيتونه او ذهانتونه په بشپړه توګه پامال کړي دي. مذهب چې د امن او وروروليٰ نوم دے کله هم د جبر، جارحيت، تشدد او ترهګرۍ اجازت نۀ ورکوي، خو نن ټول انسانيت تر مذهبي منافرت لاندې ذره ذره دے.

انسانيت په خودکُش حملو او خودکُشيو کښې يرغمال دے. رياستي ترهګري، مذهبي ترهګري او ګلوبل ترهګري، نۀ پوهيږم د چنګيز او هټلر زامن کومې کومې ترهګرۍ کوي. فکري او ذهني نړۍ مو فسطاييت او فسطائي رجحاناتو نيولې ده. په موجوده سماج کښې د انساني وروروليٰ، ټولنيز انصاف، امن، برابرۍ او جمهوريت غوندې لوړو او ارفع قدرونو دپاره هيڅ ځائے نشته. ټولنيزې روئې مو بې شرمه دي، برتاؤ مو بې تهذيبه دے، زړونه مو بې درده او رشتې مو بې مينې دي.

په داسې حالاتو کښې راوچتيدونکي مذهبي منافرتونه، متشدد جذبات او فسطائي نهضتونه د سامراج د اقتصادي مفاداتو دفاع کوي. په مذهبي بنسټونو کيدونکي جنګونه هر وخت د انسانيت سپکاوے کوي خو د هند د نيمې وچې د لوئے قصه ليکوال کرشن چندر په قول "د منافع او ظلم هيڅ مذهب هم نۀ وي" له دې افسردګۍ او غنودګۍ سره په لاس او ګريوان چاپيريال کښې زمونږ تخليقي صلاحيتونه، سياسي نهضتونه او کلتوري ارزښتونه د خپل منظر او پس منظر نه په بله اوښتي دي. د مستبد ماورائي او ديو مالائي چاپيريال راج او مزاج مو په تخليقاتو کښې نفسياتي عارضي، مافوق الفطرت تقاضې او رنځورې روئيې پيدا کړې

دي. د فکري استبدادګرو کوشش دا وي چې د مظلومو او محکومو قامونو د تخلیقاتو نه مزاحمتي او ترقي پسند افکار وباسي. د دغو قامونو ادیب په نفسیاتي ناروغیو اخته کړي او یو داسې وژن راپېدا کړي چې د ژوند له مادي حقیقتونو سره تړلې نهٔ وي.

په بنیادي توګه د ټولو تخلیقي فعالیتونو او فنونِ لطیفه تړون له جدلیاتي مادیت او مادي جدلیت سره وي. د طبقاتي ټولنو د روزل شوي ادیب د تخلیق موضوعات به همېشه طبقاتي اپروچ لرونکي وي. په قول د لېنن "د طبقاتي ټولنو ادب له طبقاتي خصلت نه ډک وي" په ادب کښې د غېر جانبدارۍ او لا نظرئې خبرې کوونکي د استعمار د چاکرۍ نه سېوا هېڅ هم نهٔ دي. څوک چې ادب غېر سیاسي ساتل غواړي، هغوي دا سیاست کوي چې د ځپلو، ځوربدلو او ربړېدلو انسانانو د تخلیقاتو نه مزاحمت وباسي او هغوي مصلحت ته اماده کړي. په دې غېر فطري مردار زندان کښې چې مې خپل تنخواداران د قام د حقیقي روح او حقیقي ژوند ترجمانه شاعري د "جنګي ترانو" او د خلکو په زړونو واکمن شاعران د "وسله ډیلرانو" په نوم یادوي نو دا به ئې یواځې د زرغونېوښو نمک حلالي نومو. په نړیواله کچه روان د نظریاتو د سوړ جنګ، بې اعتبارۍ او د روغ ګوهۍ نه مظلوم او محکوم قامونه په یو نفسیاتي تذبذب او اضطراب کښې ښکېل دي.

برلاسې طبقې چې کوم ادبي، سیاسي او صحافتي روایات تخلیق کړي دي، له هغوي نه په علمیت او عقلیت پردې غوړېدلي دي. څرګنده خبره دا ده چې نن جنګ د تُورو او خنجرونو نهٔ دے پاتې یعنې نن له کلاشنکوف او هیروئن کلچر نه د لاس اخستلو وخت را رسېدلے دے او د ټولو انسانانو ترمنځ ترمنځ د یو محبت کلچر او قلم کلچر پېداکولو اړتیا لیدل کېږي. زما په فکر د پوسټ ماډرنزم تقاضا دا کېدے شي چې ټول روڼ اندي د جنګي ساز و سامان او جنګي رجحاناتو په ضد د یو هائي لېول ثقافتي، ادبي او سیاسي مبارزې اغاز وکړي او د روانو جنګونو او جنګي فلسفو نه د خلاصون او مقابلې دپاره بشري ټولنه په ثقافتي توګه منظمه کړي.

ځینې خلق وائي چې د یویشتمې پېړۍ په دې تېز رفتار سائینسي عصر کښې د ادب ارزښت او افادیت له منځه تللے دے او تخلیق یو بې ګټې اوبې کاره شے پاتې شوے دے. دا نظر به د ژوند له ختمېدو سره دُرست وګرځي. خو په ژوند کښې ئې امکان هم حماقت دے. حقیقت دا دے چې ادب اوس هم د ستمونو په مېچن کښې د رېول شوو خلقو یواځینۍ اسره او سهاره ده. په دې حالاتو کښې د یوې سوکاله، سوله اییزې، غېر طبقاتي او اشتراکي ټولنې په قیام کښې مزاحمتي او ترقي پسند ادب زښت لوئے رول لوبوي. رښتیا خبره دا ده چې په اوسنیو حالاتو کښې چې هر څهٔ د دوي دي، ځپلو او ربړېدلو انسانانو ته یواځینۍ سرمایه هم مزاحمت پاتېږي. هم دا مزاحمت دے چې د محکومیت او محرومیت په تورو او پلنو تیارو کښې د خپلواکۍ ډیوې بلوي.

په بدلېدونکې نړۍ کښې بدلېدونکو رجحاناتو ته په کتلو سره د ادبي موضوعاتو او ادبي اندازِ فکر بدلول لازمي ښکاري. د بقاء او ارتقاء د تحریک سره مرسته او د حالاتو سره هم اهنګي پکار ده. د انسان د روښانه مستقبل نه مایوسي نه بلکې د روښانه مستقبل د لرلو په امېد وړاندې تګ پکار دے.

هم پرورش لوح و قلم کرتې رهېنِ ګې
جو دل په ګزرتی هې رقم کرتې رهېنِ ګې